انجینر داؤد اخک
۰۴ سپتمبر ۲۰۲۲


## په اسلامي امارت کي ګټلي او بایللي

کله چي د ۲۰۰۱ میلادي کال اکتوبر په میاشت کي امریکا د B -52 الوتکو په ذریعه د طالبانو رژیم نسکور کړ نو د همدغه کال د دسمبر په ۲۲ مه نیټه د نړۍ والو لخوا د حامد کرزي په مشرۍ د المان په (بن) ښار کي د افغانستان لپاره موقت حکومت جوړ سو، څو وروسته د امریکا په رهبرۍ د ۴۸ هیوادو عساکر د International Security Assistance Force (ISAF) په نامه افغانستان ته داخل سول او د ملل متحد د منشور ۵۱ مه ماده ئي په تحریف سوي ډول پر افغانستان عملي او بالاخره ئي خپل اشغال ته مشروعیت ور کړ.

بیله شکه چي طالبانو خپله ماته و منل او حکومت ئي خوشي کړ. ځني طالبان پر کور کښینستل او ځیني ئي بهر ته ولاړل. حالت نورمال سو او په هیواد کي تجارت رونق پیدا کړ. د فابریکو پر څنګ صحي او تعلیمي موسیسات هم په پراخه کچه د خصوصي سکټور له خوا جوړ سول. خلګ خوښ ول او امنیت هم تأمین وو. خو دوه یا دري کاله وروسته کله چي امریکایي بد اخلاقو کرایي عسکرو (بلک واټر) د طالب په نامه د عامو خلګو ځوروني، ټولنیز او اخلاقي جنایات پیل کړل نو د طالبانو بیا ژوندي کیدو او منظم کیدو ته شرایط اماده سول. لنډه دا چي طالبان بیا منظم او یو قوت سول. جګړه دوباره توده سوه او د کوچنۍ وقفې وروسته انفجار او انتحار یو ځل بیا د افغان مظلوم او جنګ ځپلي ولس ارام واخیست. هره ورځ به د حکومت، خارجیانو او طالبانو لخوا په لسهاوو کله هم په سلهاوو افغانان په شهادت رسیدل. د یتیمو ماشومانو، بورو میندو او په سرو لاسو د کونډو ژړا او فریاد له یوې خوا انسانیت نفي کاوه او له بلي خوا څخه اوږد محاله جګړې د امریکا او ملګرو ناړې اسمانو ته پورته کړې. یعني امریکا او ملګرو ئي نور توان نه درلود چي دغه میلیارډي جګړې ته دوام ور کړي. څو د شل کلني ناکامه جګړې وروسته په دوحه کي د طالبانو سره د ټرون پر بنسټ په توره شپه له افغانستان څخه و وتل او طالبان د ۲۰۲۱ میلادي کال د اګست پر ۱۵ مه نیټه بیله کوم مقاومته کابل ته ننوتل او حکومتي چاري ئي پلاس کي واخیستي.

دا بربنډه خبره ده چي انقلابونه ترخې او خوږې لري، هم ښېګڼي او خوشحالي لري، هم خواشیني او بربادي لري. یعني ولسونه په انقلابونو کي هم څه د لاسه ورکوي او هم ئي لاس ته راوړي، خو د دې دواړو مفاهیمو (بایللو او ګټلو) کچه توپیر کوي. هغه انقلابونه چي د مثبتو لاس ته راوړنو برخه ئي درنه وي پاتیږي او تر هغه وخته دوام کوي چي خپل ولس ته د ورځنیو ټولنیزو ضرورتونو، غوښتنو او د نړیوالو رواجونو سره سم خدمات او تولیدات عرضه کوي. هغه انقلابونه چي د ټولني عیني او ذهني ضرورتونه، نظم، دسپلین او بین المللي مناسبات نه مراعت

کوي طبيعي ده چي يوازي پاتيږي او بالاخره د ناکامی سره مخ کيږي. اوس به په افغانستان کي پر اسلامي انقلاب تم سو چي کومي ښېګني مو ګټلي دي او کوم ارزښتونه مو بايللي دي. د دې انډول په هکله بايد قضاوت عيني او ملي وي نه سياسي، قومي او مذهبي.

## ۱- ګټلي

- که موږ بې پرې، صادقانه او ملي قضاوت کوو نو دا به منو چي افغانان ۴۳ کاله وروسته د نسبي امنيت او ارامي خاوندان سول چي په ښارونو او لويو لارو کی له ورايه ليدل کيږي. زما په اند لويه او بې ساري ګټه ده.
- بله ښه ګټه دا چي د حکومت سره موازي قدرتي مرکزونه له منځه ولاړل چي د ناامنی او بې ثباتی اصلي لامل ول.
- په نسبي ډول غښتلی او مرکزي حاکميت را منځته سو چي کيدای سي د ملي ګټو او ارزښتونو په مراعت کولو سره د ملي وحدت سمبول و ګرځي.
- فساد د جمهوريت په نسبت تر ډيره حده قابو او له منځه تللی دی، خو په لږه کچه په غربي او با ثباته هيوادو کي هم فساد سته.
- د زور واکو رامول او په ټولنه کي د ګډوډيو، بې قانونيو او خود سريو مخه نيول په نسبي ډول بله لويه ګټه ده.
- په لږ وخت، لږو امکاناتو او کمزوره اقتصاد سره د سړک جوړولو په شان د ځينو ساختماني پروژو او د مرکزي سيلو په شان توليدي مؤسساتو فعاله کول ښه لاسته راوړنه ده.
- د ټاپي پروژې کار ګړندئ کول او د افغانستان په شمال کي د ازبکستان او تاجکستان سره ګډ بازار جوړول د افغانانو د بډايني ضمانت کوي.
- د ټولو بنديزونو، تحريمونو او د ملي بوديجي پر کنګل کيدو سربېره د غښتلي ملي اردو، ملي پوليسو او بيداره ملي امنيت جوړيدل د هر حکومت له وسه نده. يعني ستر کار دی.
- د معدنو د خود سرانه او غير فني استخراج مخه نيول هم پر ملي ګټو باندي اضافه کوي.
- ډير مهم دا چي د تماميت ارضي او استقلال د ساتلو لپاره زمينه مساعده سويده، په شرط د دې چي طالبان بايد د ملي ګټو پر بنسټ ملي عمل و کړي.

## ۲ - بايللي

- بيله شکه چي د اسلامي امارت په راتګ سره افغان ولس ډير څه بايللي هم دي. د بايللو په قطار کي مو تر ټولو لوړ، انساني او طلايي ارزښت له لاسه ور کړيدی چي د انسان فردي او سياسي ازادي ده.
- کار، شغل او مسلک د انسان لپاره هغه مهم ارزښتونه دي چي انسانيت په کښي تعريف کيدای سي، خو متأسفانه چي د اسلامي امارت په راتګ سره دا درې واړه ارزښتونه د تېر وخت په پرتله افغانانو له لاسه ور کړيدي. ځکه نو فقر او بيکاري اوج ته رسېدلي دي.
- د ښځو تعليم، تحصيل او کار چي د ټولني بنسټ جوړوي او د ښځو او نجونو اسلامي، انساني او افغاني حق دی متأسفانه چي د اسلامي امارت لخوا په ډيرو سيمو کي په بې توجهي سره دا حق اخيستل سويدی. د نجونو او ښځو محروميت له تعليم، تحصيل او کار څخه د ټولني د پرمختګ ريښي و چوي او ټولنه د بد بختی او تياری ګودال ته غورځوي.

**پایله**

دا چي په اوسنيو شرايطو كي په افغانستان او بهر كي د طالبانو بديل (الترناتيف) نسته، جګړه هم د حل لاره نده او افغان مظلوم ولس هم نور د جګړې او ورور وژني توان نلري نو زه هم د صلحي په جامه كي  دعا كوم، هيله كوم او عرض كوم چي ژر تر ژره دي د نجونو ليسې پرانيستل سي او ښځو ته دي د اوسنيو شرايطو او ضرورتونو پر بنسټ خپل اسلامي حقوق ور كړل سي. زه باورمند يم كه اسلامي امارت ښځو ته په اسلامي چوكاټ كي ازادي او حقوق ور كړي، د خلګو په فردي ژوند كي مداخله و نكړي، عمومي عفوه په رښتيني ډول تطبيق كړي او د ښه حكومت كولو لپاره د تيرو حكومتونو مسلكي او وطندوسته كادرونه بېله كوم تعصب څخه جذب كړي طالبان به د خلګو زړونه و ګټي او د ولس زور به د ځان كړي. پدې صورت كي به هيڅ بهرنۍ هيواد و نه كړای سي چي اسلامي امارت كمزوره يا نسكور كړي. حتا كه طالبان ټاكنو ته صندوق هم كښېږدي زه باورمند يم چي د هر كانديد په مقابل كي به اكثريت رايي د طالب وي، يعني ګټونكي به طالبان وي.

لهذا طالبان بايد د خلګو پر زړونو حكومت و كړي، نه پر كلو او ښارونو.

درنښت

۳-۹- ۲۰۲۲